# پروفیسر راز محمد راز: د پښتو قصه ایز ادب نوښت گر او رجحان ساز لیکوال

# Professor Raaz Mohammad Raaz: A Trendsetter and Innovator of Pashto Fiction

محمد نعیم ازاد*

**Abstract:**

This article begins with introductory remarks about novel writing and sheds light on what novel is, how and when it came into existence, how it derived from Italian literature into English and substituted the ancient romances and fables. The term novel originated from the Italian Word *Novella* and took place of ancient romances and fables; thus, it paved the way for realism.

Fables and romances were intertwined with romanticism and were heavily embodied by fictional narratives and superstitions, which means that the fables and romances were comprised of fairy tales and tales of transcendental powers. However, novel cleaned the world of literature from these types of fiction and empowered it to be more realistic. Hence, novel is considered to be woven in realism.

This article introduces novelist late Raaz Mohammad Raaz as a follower of realism, and attempts to define and recognize his eminence in Pashto literature.

**Key words:**The holly sinners, Novel, Fables, Romanticism, Realism in Pashto Literature.

کله چي ما د نوموړي ناول لیکوال اروابناد راز اردو ناول "دي هولي سینرز" و لید او په خپل خیال مي ترې د "سپېڅلو گناهکارانو" مانا په داسي ډول واخستله، چي د خیال نیلی مي د زمان په اوږدو کي تر داسي پیغامبرانه کرکټرونو پورې و رسېدی، کوم چي په خپل خپل وخت کي د ټولني له خوا له ډېرو درنو او وړتیا وژونکو رَویو سره مخامخ شوي دي. خو بیا یې هم خپله سپېڅلې لاره نه ده پرې ایښې او تر مرگه پوري یې وړ فکر پاللی او له سپېڅلتابه سره مل پاته شوي دي. که څه هم څوک له خپله ځایه او کوره شړل شوي، ځینو ته لکه سقراط د زهرو جام ورکول شوی دی، ځیني په کاڼو ویشتل شوي او ځینو د زندانونو پر مرگنیو ستونزو گاللو سربېره د ټولني زهرجني رویې هم زغملي دي او د غربت درنې څپېړي یې هم خوړلي او یو شمېر داسي هم وو، چي د دار مراندي یې په لوی زړه مچ کړلې او مرگ ته یې هرکلی ؤ وایه.

---

* Pashto poet, Writer and Supervisor of Pashto News PTV Quetta

همداسي کردارونو د وجدان په ډاډمنتیا او ټولنیز کردار تلپاتی نوم و ګاټۀ او د اولسونو په زړونو کې یې د تل لپاره ځای و موند، چې تر پېړیو پېړیو وروسته یې نن هم تلپاتي کردارونه موږ ته د هغوی د سپېڅلتابه باور راکوي.

مانا دا هغه پوهنیزه وړتیا لرونکي مبارز او مقاومت کوونکي کردارونه دي، چې تر نوک لاندي یې خیره نه ده پرې ایښې او د ځپلیو اولسونو په ملاتړ یې د هر ډول جابرانو او زورورو په مخکې په واز کومي د هغوی ناوړو ته ناوړي ویلي دي او د هر چا د وړتیا او ښېګړو ستاینه یې کړې ده، آن چې د خپلي ټولني دودیزه چاري یې هم "چې خپل ارزښت یې له لاسه ورکړی او له کاره لوېدلي وي. بې له وېري په لوی زړه څرګندي کړي دي او د هیڅ کوم زورور او خپلوانو د خوابدۍ او خواشینۍ خیال یې نه دی ساتلی.

هو! کله داسي هم شوي دي، چې ټولنیز ذهنیت د واکدارانو له خوا د ځینو شومو هدفونو لپاره د ګوډاګیانو په مرسته په شعوري توګه د ځان ځانۍ (Individualism) "مانا خپل کار کوه. په چا کار مه لره" له سیاست څخه د لېري ځغستنا او بې پرېتوب اپارتایډ (Apartheid) ناروغۍ ته ور ټېل وهل شوی چې له کبله یې ځینو زورواکانو د خپلو ګټو لپاره داسي سپېڅلي کردارونه د خلکو په وړاندي ګناهکار جوت کړي دي او په سزاوو یې هم رسولي دي.

مانا هغه سپېڅلي کردارونه چې په خپل زمان او مکان کي له ټولنیزي ناپوهۍ څخه په کار اخستلو د مهالنیو واکمنانو، جابرانو او خپلو ګټو پالونکو په لمسون او هڅه ګناهکاران بلل شوي وي، خو د وخت په تېرېدلو سره د دوی سپېڅلتیا، رښتینوالی او دریغ بیرته خلکو ته رښتیا ثابت شوی وي، لکه سوکرات ته چې زهر ورکول شول او داسي په ډېرو مخکښانو پسې بېلا بېل تورونه خواره کړل شول، خو هغوی بیرته په خپل ارزښت خپل ژوند او رښتینتوب جوت کړی دی.

داسي سپېڅلي مجرمان په هره زمانه کي د هري ټولني په برخه شوي دي، چې د خپل وجدان په پیغامبرانه کردار او ډاډمنتیا سره د بېوزله او ځپلي اولس په ملاتړ د هغوی په څنګ کي درېدلي دي او د جابرانو په وړاندي یې د ولي توان لرلی دی.

نن هم په شاته پاته ټولنو کي داسي کردارونه له همداسي ناوړو رَویو، ذهني ځور او آن چې د زندانونو توري خوني ورته پرانستل شوي او زولنې ورته شرنګېدلي دي، د ذهنونو د روزنیزي غوړېدني لاره ورته ډب شوې آن چې ګناهکاران هم بلل شوي دي.

ښاغلی ناول لیکوال اروانښاد راز هم زموږ د ټولني له داسي سپېڅلو ګناه کارانو څخه وو، چې د ټولني له خوا د یو لړ وړتیا وژونکو رویو سره پر مخامخ کېدا سربېره یې هم د ټولنیز فکر ژغورني او ژوند هوسایني لپاره د فکري روزني دغه سپېڅلې ګناه ته زړه ښه کړی وو او دغه مقدسه لاره یې د پنځ یا تخلیق پر وَړو د وجودي مرګ تر پولي پوري و پالله، که څه هم نوموړی د تاریخ استاد،

فېلسوف، شاعر، لنډه کیسه لیکوال او ناول لیکوال ؤ، خو دلته یې له تخلیقي هڅو څخه یوازې پر ناول خبره کوو.

څېړونکي ناول د اتالوي ژبې Novella توری بولي، چې تر ادبي سفر او مېنود وروسته یې انګرېزي ته په رسېدلو د ناول بڼه غوره کړه. لغوي مانا یې نوی شی دی.

په ادبي دنیا کې یې د نوښت او ابتکار پوښ ځکه اغوستی دی، چې د کلتوري تهذیب او تمدن په منځ کې د راتلونکي جدلیاتي پړاو یا ټکر او نښتې پر مهال د ذهني غورځېدا لپاره خپله ادبي چاره تر سره کوي. د ناول په اړه په نقد او تنقیح کې لیکلي، چې:

"د اطالوي ژبې ټکی Novella چې کله په ادبي سفر د Boccaccio ادبي کاوش Decameron په ذریعه د اټلي نه انګلېنډ ته و رسېدو، نو د Novella نه Novel ناول شه. د ناول لفظي معنی ده، یو نوی څیز، په ادبي توګه د نوي څېز نه مراد نوی ایجاد دریافت یا نوې ټکنالوجي نه ده؛ بلکې انګرېزي ادب ته د یو نوي صنف یعني ناول راتګ دی، ناول ته نوی څیز ځکه ویل کېږي، چې دا د مودو مودو راسې د مروجه Romance په ضد راغلی دی."(1)

"پورته یاد شوی بوکاچیو Boccaccio د ایټالیې نوموړی شاعر دی، چې اوولسمه زېږدیزه پېړۍ ته نژدې یې په اتالوي ژبه ډیکامرون Decameron نومې کتاب را منځ ته کړی او د نوموړي د یاد ښبیر (تصنیف یا تالیف) په اړه ویل کېږي، چې دا کتاب سل کیسې لري او په لس ورځې کې ویل شوی یا لیکل شوی دی". (2)

د همدې ژوندۍ اتالوي ادبي هڅې او کاوِش له لارې دغه ژانر انګلېنډ ته ورسېد او له Novella څخه Novel شو، چې مانا یې په نویوالي سره مخکې هم وړاندې شوه.څرګنده دې وي، چې انګرېزي مخکینۍ ډرامې هم داستاني ډوله منظومې وې، په دې اړه ښاغلی لیکوال درویش درانی داسې لیکي چې

"په پوهنتون کې یو بل نوی او زما د پاره ډېر په زړه پورې شی چې په مخه راغی؛ هغه ډرامه وه. د انګرېزي مخکینۍ ډرامې منظومې وې، د منظومې ډرامې دغه روایت انګلستان ته له یونانه راغلی وو، دلته پکې کرسټافرمارلو دا بدلون راووست، چې له نظمه یې قافیه و غورځوله، معری یې کړ، دغه معری نظم بیا شکسپئیر په خلاص مټ په خپلو ډرامو کې و کاراوه."(3)

د بدلون او تحول د همداسې غوښتنو په رڼا کې ټولنیز ادب د وختونو په اوږدو کې له مدني پرمختګ سره سم د تهذیبي څپو په بهاند بدلون سره د ځینو دودیزو خو له ارزښته لوېدلو چارو "چې د مهالني ټولنیز ژوند په بهیر کې د جدلیاتي عمل په مېچن انډل کېږي. د ټولنیزو ذهنونو په چاڼ او

واک سره د ناوړتیا په باور د انتهي تهېسز کندي ته لوېږي" د داسي خویونو و پرېښوولو ته د ټولنیز ذهن په اپلېدلو او غوړېدا کي د مرستي چاره تر سره کوي، چي همدا د ادب دنده ده.

دا بدلون یا تحول موږ د وختونو یا زمان په اوږدو کي د پښتو په ادبي نثري او شعري اصنافو آن چي په تاریخ کي هم په ښه توګه لیدلای سو، چي ذهن پکښې له خیالي نړۍ څخه رښتیني نړۍ ته لاره وهلې او له خیالي نړۍ څخه یې رښتیني نړۍ ته د ټولنیز فکر اپلولو هڅې کړي دي.

د پښتو شعر په څرګند پیل کي ښکاري، چي ژوند ته نژدې او د ریالیزم په پړاو کي ګامونه اخلي، خو وروسته یې په ناهیلۍ او نااميدۍ کي د ټولنیز ژوند د سمون او فکري روزني له بار څخه ورې سپکي کړي او خیالي دنیا ته یې ځان رسولی دی.

د پښتو شعري ژانر د داسي بدلون په اړه لوی استاد ارواښاد حبیبي لیکي چي.

"ادب چي د ژوندانه سره مل نه وي، نو هغه ژوندی ادب نه سو ګڼلای. د پښتو ادب په خپلو منځنیو دورو کي د خوشال خان له جنبش سره د پښتنو د سیاسي او اجتماعي ژوندانه سره ربط پیدا کړی ؤ، خو دغه حرکت وروسته د نورو ادابو تر اثر لاندي ضعیف سو او زموږ شعر د تصوف او ادبي حوصونو په کړو وړو کي هغه د ژوندانه د اصالت رنګ څه بایلود. رحمان بابا دغه حیاتي متاع د مادې له چارچوبه یو اسماني او روحاني فضا ته و رسوله. شیدا او حمید د لفاظۍ او نازکخیالۍ او هوسناکۍ په چاپېر کي سره را دې خوا او هغې خوا ته کړه او حتیٰ ځیني خلکو خوارکی ادب د مضمضې، استثناق او استنجا په احکاماتو کي هم را و نغښت".(4)

د نهیلیو او نااميدیو له کبله د شعور په خیالي نړۍ کي د اوسېدا خوښوني شاته یو شمېر لاملونه وي، لکه د پوهنیزي او اقتصادي وړتیاوو په نه شتون کي چي ټولنه د ځان ځانۍ یا انډویدوالیزم لوري ته لاره وهي، همداسي د ګڼ شمېر ټولنیزو اړتیاوو په وړاندي لږ وړتیاوي نه شي کولای، چي د ټولنیزي ودانۍ ذهن دي له نهیلیو څخه و ژغوري، د داسي لاملونو څېړل او د هوارولو لاره ټولنه ته روښول پوهنیزه وړتیا غواړي.

دا چي دلته خبره د ناول ده، نو ناول هم د زمان په اوږدو کي له داسي بدلون او تحول سره مخامخ شوی ژانر دی، چي اوسنۍ بڼه ناول یې په ډېرو ژبو کي د ټولنیزي فکري روزني لپاره خپله غېږ پرانستې او لیکوال پکښې خپله طبع آزمایي کوي. پوهان د ناول زړه بڼه رومان پاموي او وایي، چي ناول د رومان ځای نیوونکی دی، مانا دا چي ناول د رومان پرمختللې بڼه ده، په دې لړ کي ارواښاد استاد روهي لیکي، چي:

"د رومانتیسزم نوم د رومانتیک (Romantic) له صفت څخه مشتق شوی دی، چي د روماتیک کلمه هم د زړې فرانسوي له رمانز (Romanz) څخه اخستل شوې ده، چي معنی یې رومانس (Romance) یا ناول (Novel) دی، لېکن دغه کلمه د لومړي ځل لپاره د

(۱۶۵۴ع) په حدودو کې په انګلیسي ادبیاتو کې استعمال شوې ده. د رومانتیک مانا ده، د رومان په شان، چې مجازاً د خیالي او موهومي په مانا استعمالېده." (5)

دا چې ناول د رومان ځای ونیوی او د رومان په ضد راغلي صنف Novel ته ځکه نوی شی یا ناول و ویل شول، چې د هر زاړه ځای نیوونکي څه ته نوی ویل کېږي او دا ولي راغلی، د دې شاته نفسیات څه وو؟ په دې اړه خبره څېړو.

په پښتو ادبیاتو کې د داسي بدلون او تحول لپاره د لیکوالو د زړه ږغ او هیلي په لیک کې هم تر سترګو کېږي، په دې اړه اروابناد صابر یو ځای داسي لیکي چې:

"یوه زمانه وه، چې پښتو کې کیسې وې؛ افسانه نه وه. داستانونه وو؛ ناول نه وو. د ودونو او ښادو په مجلسونو کې به تمبلونه وو؛ ډرامه نه وه. خلکو به سفر کولو؛ سفرنامې او راپورتاژونه به یې نه لیکل. نقلیانو به په مجلسونو کې ټوقي ټقالي کولې؛ دغه ټوقي ټقالي به د ادب برخه نه ګرځېدلې. په روزمره ژوند کې به تنقید وو؛ خو د ادب له تنقید نه خالي وو. تحقیق به کیدو؛ خو تحقیق ته کتابي بڼه ایله اوس په دغه جدید دور کې ورکړې شوه." (6)

د رومان دغه بڼه په پښتو کې د داستان په بڼه وینو، چې د منځپانګي او محتوا په ژورلید سره یې لوستونکی د لیکونکي په خیالي نړۍ کې اوسېدل پامولای شي.

د رومان او داستان نوې بڼه ناول دی، چې منځپانګي یې په بدلون او تحول سره له خیالي نړۍ و ربښتیني او حقیقي نړۍ ته لاره وهلې ده او پښتو ته راتګ یې د یوې پوره پېړۍ اوږدول په بر کې نیسي، چې د خپلو مهالنیو ژوندنیو غوښتنو سره سم یې د ریالیزم مفکوره په ځان کې ځای کړې او ژوندانه ته یې په ښه توګه جواب ویلی دی. د ریالیزم په اړه اروابناد روهي لیکي:

"ریالیزم د معنی د اتساع له مخي د ژوند او واقعیت څرګندولو ته وایي، نو پر دې اساس هغه ټول ادبي آثار چې ژوند یې په واقعي او ربښتیني ډول بیان کړی دی. ریالیستیک بلل کېږي او د همدغه تعریف له مخي باید و وایو، چې په ادب کې د ریالیزم ریښه ډېره لرغونې او پخوانۍ ده. ویل کېږي، چې د یونان مشهور شاعر (هومر) د دوو ادبي مکتبونو ریالیزم او ایډیالیزم پلار دی." (7)

لوستونکو ته د رومانتیسیزم او ریالیزم د منځني توپیر لا ښه څرګندولو لپاره د استاد روهي یوه سپړلې خبره را اخلو، استاد رومانتیسزم او ریالیزم داسي بېلوي:

استاد د چاپېریال په وړاندي کولو د رومانتیسیزم په اړه لیکي چې:

"په داسي شرایطو کې اکثر هنروال له ټولني او د وخت له جریان څخه بېزاره کېږي، ځیني له واقعیت څخه تښتي او د خیال او تصور ځنګلونو ته پناه وړي، ځیني د عاج په ماڼۍ کې کښېني او ځانته د خیال جهان جوړوي، ځیني د هنر د ښکلي مجسمې په مخ او زلفو لاس وهي او خپل وخت پرې تېروي او هنر د هنر لپاره خپل شعار ګرځوي، ځیني نور د تېرو

وختونو او عظمتونو په فکر کې لوېږي او هیله کوي، چې د ګړۍ ستني به بیرته را وګرځوي". (8)

وروسته بدلون راوړونکی ذهنیت ریالیزم ته داسې لاره وهي.استاد لیکي.

"خو! څه موده وروسته ځینې مفکرین د خپلې توجه واګې د واقعي دنیا خوا ته را کاږي، د دوی په زړونو کې د امید ډیوې بلېږي. د دې پر ځای چې د خپل سوز نغمې د تخیل پر وزرونو اسمان ته ولېږي. د مځکې پر مخ یې سویو زړونو او ځیري ګرېوانونو ته د تحفې په ډول وړاندې کوي، شاعر او لیکوال د خپل وخت فجایعو او مظالمو ته ګوته نیسي او زیار باسي، چې د پردې تر شا کارونه خلکو ته په رښتینې بڼه و ښیي." (9)

په پښتو ادب کې د رومان استازیتوب داستان کولای شي، چې بڼه یې منظومه او په پښتو ادبي بهیر کې ښه پرېمانه برخه لري او په خپل وخت کې یې د ژبې په وده او پرمختګ کې پوره لاس لرلی دی. پوهان یې داسې ارزوي، چې په رومان یا داستان کې د خیال او خوږلت تصور، مهماتي کارنامې، د اولس او رښتیني ژوند پر ځای خیالي نړۍ انځوروي او بڼه یې منظومه وي.

خو په بدلون او تحول سره چې کله ناول د رومان او داستان ځای نیسي، مانا ذهني پړاو له رومانتیسزم څخه د خپلو مهالنیو غوښتنو په رڼا کې ریالیزم ته لاره وهي، نو د نظم ځای یې نثر ته پاتېږي، ژبه یې اولسي او د رغښت زمینه یې د تصوراتي او خیالي نړۍ پر ځای رښتیني او ژوندنۍ نړۍ ته را کوزېږي، د ټولنیز ژوند او سیمې کره وړه انځوروي، د نقل ځای عقل نیسي او د وګړنیز ژوندانه ورځنۍ چارې پکښې را نغاړي، پر وګړنیز یا انساني ژوند را چورلي او د انسانانو له یو بل سره د رویو، پوهې، تهذیب او مدنیت اړخونه د هغوی په خپله ژبه بیانوي، چې د لیکوال ارزښت یوازې استازیتوب ته پاتېږي، مانا دا چې لیکوال په خپله پوهه او دانش له ټولنیز ژوند څخه په ژورلید تومنه تر لاسه کوي او د کرکټرونو په ژبه د وګړنیز ژوند ښېګړې او ناوړې انځوروي. په همدې بهیر او جریان کې یې د لوستونکي لپاره خپل فکري میلان هم نغښتی وي، چې و ټولنیز ذهن ته د خپلې پوهې په موټ د ټولنیزې ودانۍ او پرمختګ لاره پرانیزي او ژبه پر ژبه یې فکر تر اولسه و رسېږي. په داسې پړاو کې د هنر او په ځانګړې ډول د ناول په اړه استاد عطایي لیکي:

"د بورژوازي ټولنې د حماسي هنر فورم په مانا دا چې د ریالیزم (واقعیت پالنې) له اصل سره به نه پرېکېدونکې اړیکې لري، د دغه یادونې سره د غلط مهمۍ د ازالې په توګه باید و وایم، چې د رومانتسیزم د ادبي ښوونځي (مکتب) پیروانو هم ناولونه لیکلي دي او موږ هغه د ناول له چوکاټه نه باسو، خو په هغو کې تر واقعیت تخیل زیات ځای نیولی دی، نو ځکه د فساد په لوځولو کې "چې د ناول جدي وظیفه ده" کمزوري پاته شوي دي." (10)

مانا دا چې استاد عطایي د ټولنیز فساد لوځول د ناول جدي وظیفه ګڼلې ده او د ناول په حماسوي او مبارز فورم بللو سره یې په ګوته کړې ده، چې دا د ریالیستیکي پړاو استازی هنر دی او هم دا هغه

ټولنیز ارزښت دی، چې د داستان او ناول د توپیر منځنۍ کرښه را کاږي او د همدې ارزښت په نه پاللو سره داستان د زمان په اوږدو کې د ټولنې له پامه ځان ځکه و یوست، چې د ټولنې غوښتنې نه پوره کوونکې هر څه له پامه لوېږي، آن چې هغه ژبې هم له منځه تللې او خپل ژوند له لاسه ورکړی دی، چې ټولنیزې غوښتنې یې نه دي پوره کړي او هغو لیکوالو چې د ځانې ګټو ساتونکې یا بورژوازي ټولنې د ځېښاکګرو او ښکېلاکګرو عناصرو په وړاندې یې د وجدان پر ږغ باندې غوږ کوڼ اچولی وي، له وېرې یا ځینو نورو لاملونو له کبله یې د داسې حماسوې یا مبارزو هنرونو په پالنه مبارزه نه وي تر سره کړې؛ هغوی د رومانتیسیزم لاره غوره کړې او خپل ارمانونه یې په خیال کې اړولې او را اړولي وي.

د داسې پښتو ناول لیکوالو په لړ کې د همدې ریالستیکې لارې پالونکی لیکوال یا په بله ژبه ریالیستیک اپروچ لرونکی ښاغلی راز محمد راز هم دی، چې په خپلو ناولونو کې یې د پښتنې ژوند د ربښتیني انځور وړاندې کولو هڅې کړې دي.

د همدې ادبي دندې او په ځانګړې توګه د ناول د اصالت په اړه اردو لیکوال د ډاکټر فاروق عثمان د کتاب (اردو ناول میں مسلم ثقافت) په حواله لیکي، چې:

"ایک اجتماعی ناول میں پورے ہجوم کو افعال و اعمال کے ساتھ پیش کیا جاتا ہے، لیکن کسی بھی ہیئت اجتماعیہ (سوسائٹی) کے رجحانات اور میلانات کو سامنے لانے کے لئے ضروری ہوتا ہے، کہ پس منظر میں کسی انقلابی تحریک یا پھر ایک بڑی اور طویل جنگ کو لایا جائے۔ کیوں کہ یہی وہ لمحے ہوتے ہیں، جب کوئی بھی ہیئت اجتماعیہ ایک اجتماعی رد عمل کا اظہار کرتی ہے۔"(11)

**ژباړه**: په یوه ټولنیز ناول کې بشپړ ټول له خپل کړه وړه سره وړاندې کېږي، خو د هر ټول د کړو وړو څرګندولو او وړاندې کولو لپاره اړتیا د دې وي، چې په شالید کې یې یو انقلابي غورځنګ یا بیا یوه اوږده جګړه را سربېره کړل شي، ځکه چې دا هم هغه شېبې وي، چې یو ټول په ټولنیز غبرګون سره خپله څرګندونه تر سره کوي.

د همدې ادبي دندې او ناول د اصالت په ساتلو سره په خپل وخت کې د خپلې ټولنې په استازیتوب تر سره کولو ښاغلی ناول لیکوال راز هم په ربښتیني ډول د خپل ټول په انځوریز کړه وړه وړاندې کولو او د هغې و شاته په ټولنیز زړه او ذهن کې د یوه پټ خولې غورځنګ او سرې جګړې په را سربېره کولو بریالی ځکه ښکاري، چې د جمود خوښوونکو ذهنونو او د خپلو ناوړو له لوښدلو څخه وېره لرونکې بهیر له خوا د ژوند په ښار کې د فکري هیندارې په لاس کې لرونکی دغه لیکوال له وړتیا وژونکې رویې او غبرګون سره مخامخ کړل شو، ولې چې قبایلي، روایتي او له پوهنیزې وړتیا څخه بې برخې ټولنه په زاړه چاپېریال کې د اوسېدلو داسې ذهن او زړه لري، لکه یو خوبولی سړی چې ویښېدا ته زړه نه ښه کوي او هر ویښوونکې ږغ ته په کرکه خپل غبرګون ورکوي، نو په زاړه چاپېریال کې خوښ ذهنونه هم داسې نفسیات او خویونه لري، چې هغه اووښتون او تحول ته زړه نه ښه کوي، چې دوی له خپلې خوښې باسي، خو د وخت په اوږدو کې یې پوهنیزه، ادبي او هنري وړتیا په مښود مښود د

داسي اووښتون زغم ته چمتو کاندي، په داسي کردارونو کي مزاحم کردارونه تل له داسي وړتيا وژونکو رويو او غبرګون سره مخامخېږي، لکه د راز صاحب د ناول په منځپانګه کي چي په لوی زړه د ټولني د ځينو کردارونو د ښکاره کولو او لوښولو مزاحمت او مقاومت تر سره شوی دی.

په قبيلوي او روايتي پړاو کي د اوسېدونکي ټولني لوی شمېر جمود خوښوونکی ذهن او زړه لري او د داسي مزاحمت او مقاومت په وړاندي د بل چا خبره بې له پام او فکره پر غوږ نيسي او بېځايه چوکېږي، چي د ټولنيز پرمختګ او ګټو په وړاندي د ځينو شومو هدفونو، سياسي او ځاني ګټو په پاللو سره دغه فکري خوځښت او نوښت له تورونو سره مخامخ کړي او له هر ډول قبيلوي، روايتي او مذهبي نفسياتو څخه په ناوړه ګټه اخستلو او ورسره توان پر بنسټ د فکري نوښت دغه استازي د ګناه کارانو په قطار کي و درو‌ي، چي د څه وخت لپاره همدغه چاره د زوړپالني ذهن او زړه لرونکو ته تسکين په برخه کوي او د ژوند پرمختګ يې له ځنډ سره مخامخ کوي.

خو په فکري نوښت او خوځښت کي دومره رښتونې ځلا، پياوړتيا او ژوند وي، چي د جمود خوښوونکي دې بهير په وړاندي که څه هم د څه وخت لپاره تت او له ځنډ او خنډ سره مخامخ شي، خو په ټولنيز ذهن او زړه کي په ځای موندلو سوکه سوکه خپله پياوړتيا او ځلا بيرته را سربېره کړای شي، لکه د رومانتيک پړاو په وړاندي چي د رياليستيک ذهن پياوړتيا په خپل اووښتون او تحول کي بريالی شوې ده، همداسي د جمود خوښوونکي ذهن په وړاندي د زمان په اوږدو کي پرمختګ خوښوونکی ذهن خپله بريا تر لاسه کوي او زمان په اووښتون او تحول منلو سره په خپل ذهن کي دغه ټوکېدلی نيالګی پياوړی کېږي او له خپلو ورَستو او ناوړو دوديزو خويونو څخه ځان داسي ژغوري، لکه د اګی له خول څخه را وتلی چيچی چي مرداره ښکه غورځوي.

په ټولنيزه فکري رغونه يا ذهن سازي کي په ياد شوي مزاحم او ډاډمن کردار باندي د ښه پوهېدا لپاره د ارواښاد راز د کيسه ايز آثارو يا ننښرونو لوستل ځکه اړين دي، چي د راز هوډمن ذهن او زړه په ټولنه کي د زمان له ګڼ شمېر رازونو څخه په خپله پوهه او دانش پرده پورته کړې ده او د داسي پټو ساتل شوو ناوړه کردارونو په بربنډولو او لوښولو کي له ښاغلي راز سره د خپل وجدان په ډاډمنتيا سره خپل مزاحم او مقاومت کوونکي فکر ډېره ملګرتيا او مرسته ځکه کړې ده، چي د نوموړي ذهن او زړه د ټولنيز ژوندانه پر سرچينو باندي په پوره توګه ځان اوبکړی وو.

د داسي ناول ليکوال په اړه يو اردو ليکوال ليکي چي:

"ناول نگار زندگی کے سرچشموں سے جتنا قریب ہو گا، اتنا ہی اس کے ناول زندگی کی ترجمانی کا حق ادا کریں گے۔" (12)

**ژباړه**: (ناول ليکوال چي د ژوندانه سرچينو ته څومره نژدې وي؛ ناول به يې هغومره د ژوندانه استازيتوب په ښه توګه تر سره کړی وي.)

موږ د اروابناد د ناول په لوست سره ويلای شو، چي نوموړی خپل ټولنيز ژوند ته ځومره نژدې او په ځومره ژورليد سره يې ټولنيز ژوند ځارلی وو.

د نوموړي د ژبي او په ليک کي خوږلت ځکه شته، چي شاته يې ادبي وړتيا او مدنيت خوښوونکی مزاج او ذوق درلودی، هم هغه پورته ياد شوی ليکوال ليکي:

"ناول نگاری ادب کی تہذیب اور تمدنی مزاج کی لطافت سے تعلق رکھتی ہے"(13)

**ژباړه**: (ناول ليکوالي د ادبي تهذيب او مدنيت لرونکي مزاج له خوږلت سره اړه لري.)

يو اعتراف به دا هم وکړو، چي په پښتو ادب کي پر فکشن باندي د وراشو يا مباحثو سپړلو او ژوري مطالعې په رڼا کي له نړيوال ادب سره د هغوی د پرتله کولو او ارزښت ټاکلو لپاره زموږ ټولنيز علمي پړاو دومره لاړه نه ده وهلې، چي د ادب ژورليد لرونکي دي ډاډه يا مطمين کړای شي، خو بيا هم د نهيلۍ له پړاو څخه د وتلو لاري پرانستل شوي دي، څېړونکي او شنونکي لگيا دي، چي دغه پوښتني ته په ښه توگه ځواب و وايي، په دې لړ کي ځوان او ښاغلی څېړونکی سميع الدين ارمان د جهاني يا نړيوال ادب د پراخو ابعادي مظهرونو په لړ تر څېړنه وروسته ليکي، چي:

"د ويني د اثر مظاهر د زمان او مکان په کوم کوم گوټ کښې خپل تاثير ژوندی ساتي؟ دا او داسي نورو بلها مباحثو لپاره خو انگرېزي، فرانسيسي، جرمن او يوناني ادب ډېر غني او معتبر دی، خو د پښتو ژبي يو ستر ليکوال لوی ناول نگار پروفېسر راز محمد راز هم دا مباحث په خپل شاهکار ناول "عاشو لمر او باران اوري" کښې نه صرف واضح کړي دي بلکې د کردار په صورتونو کښې يې د دې د اطلاق نمونې او مظاهر هم تشکيل کړي دي."(14)

پايله دا چي موږ اروابناد راز په خپلو ناولونو کي د وير او وسعت لرونکي ټولنيز ژوندي نظر په مټ د خپل وخت د استازو ناول ليکوالو په قطار کي درولای شو او په ځانگړې توگه اروابناد راز ته په لوی زړه د پښتو ناول ليکوالو په لومړيو سرلاړو کي ځای ورکوو او د هغه چا پخوانۍ خبره اوس پښتو ناول په لوی زړه ځوابولای شي، لکه اروابناد صابر چي دا پوښتنه چي "په پښتو کي ناول شته؟ په ۱۹۸۶ز کال کي داسي ځواب کړې وه، چي:

"شته خو دی، خو د نشت برابر دی، ما پورته ويلي دي، چي پښتو کي لا مکمل جامع او معياري ناول نه دی ليکلی شوی."(15)

له دې ځواب سره په هغه وخت کي هم ځينو ليکوالو لکه مفلس دراني، طاهر اثر اپريدي او نورو ليکوالو په خپل غبرگون ورکولو سره اختلاف ابښی وو، چي يو خو زما په خيال د اروابناد صابر رسايي يوازي د اوسنۍ خيبر پښتونخوا تر چوکاټه پوري وه او يا يې د سياسي اړتياوو له جوري د استاد ناول ليکوال اروابناد نورمحمد ترکي او نورو ناولونه له پامه ايستلي وو، خو د داسي پوښتنو

ځوابولو لپاره اوس پر یادو شوو لیکوالو سربېره د ارواښاد راز غوندي ناول لیکوالو او پوهانو په ملتیا پښتو ډېر څه په لاس کي لري.

د تېولني او راز په منځ کي د میني راز څه دی؟ د دې خبري د څرګندولو لپاره په ۱۸۶۵ز کال د سعدي کلام څه برخه په روسي ژبه ژباړونکی مستشرق روسی خو لمو ګروف لیکي، چي:

"سعدي د خلکو د ژوند توصیف کوي، ځکه خلک د هغه آثار لولي." (16)

نو موږ باوري یو او په لوی زړه ویلای شو، چي د راز آثار تېولنیز رازونه دي، ځکه یې تېولنیز او پرمختګیز فکر لرونکي خلک د لوست تلوسه او مینه لري. رازونه مي ځکه ورته و ویل، چي د لوی شمېر خلکو د زړه هغه خبري د قلم په خوله شوي دي، چي دوی یې د ویلو توان نه لري.

دا ځکه چي راز په کاسمک سکسوېلیزم کي د اظهار کومه لاره، کوم معیارونه او کوم آرونه یا اصول ټاکلي دي؛ هغه د نوموړي د زړه درغ او د نوموړي د لیک په تګلاره کي هم هغسي ذهن او زړه داسي خور ښکاري، چي لوستونکی یې احساسوي، د اظهار په لړ کي لیکي، چي:

"کاسمک سکسویلیزم، ، اظهار او هغه هم بې خوفه لوڅ اظهار خپل جمالیاتي اصل الاصول ټاکي او دا نظر لري، چي تخلیقي اظهاریت باید د احساس او جذبې څرګندوني په زړورتیا تر سره و رسوي او د تېولني د رجعتي عکس العمل څخه بې پروا مبارز زړه او ذهن و لري." (17)

راز د تخلیقي اظهاریت پر مهال د پوهنیزي وړتیا او عقل په مهار د احساس او جذبې په کارولو کي له رجعتي غبرګون څخه بې پروا په لوی زړه معیاري، کره او جمالیاتي تګلاره پالي.

همدغه دغه تګلاره پالل د پرمختګیز ذهن او زړه لرونکو لپاره مشال دی، چي تېولنیز وجود د ښه سباوون لوري ته بیولای شي.

# حوالې

(1) ترکزی، ایاز الله، ،نقد او تنقیح، خپروونکی؛ باچاخان ټرسټ څېړنیز مرکز,(۲۰۱۸) ، مخ ۴۰

(2) https://en.wikipedia.org/wiki/The_Decameron

(3) درانی، درویش، کره کتنه او د هغې زغمل، صحاف نشراتي موسسه کوټه/ کندهار، ،(۲۰۱۸),مخ ۲۷۸

(4) حبیبي، عبدالحی ، کابل مجله؛ خپروونکی، د افغانستان د علومو اکادمي، (۱۳۶۰ل),مخ ۷۹

(5) روهي، محمد صدیق،څېړندوی. ادبي څېړني، خپروونکې، دانش خپرندویه ټولنه ۱۳۸۶ل) ، مخ ۳۸۶

(6) صابر، محمد ایوب، نقد حیات، خپرندوی، کلاسیک خپرندویه ټولنه،(۲۰۱۶)، مخ ۱۸

(7) روهي، محمد صدیق، څېړندوی. ادبي څېړني، خپروونکې: دانش خپرندویه ټولنه،(۲۰۰۷)، مخ ۳۹۵

(8) همدغه ، مخ ۳۹۴

(9) همدغه ، مخ ۳۹۴

(10) عطایي، محمد ابراهیم، په پښتونخوا کي پر نوي ناول لیکنه لنډه څېړنه. مشموله د پښتونخوا داستاني ادبیات، خپروونکی: پښتو ادبي غورځنګ، د نعیم ازاد په زیار،(۲۰۱۲)، مخ ۵۶

(11): ناشاد، ډاکټر ارشد محمود،اصناف ادب تفهیم و تعبیر، خپروونکی، نیشنل بک فاونډیشن،(۲۰۱۶)،مخ ۹۰

(12): همدغه

(13): همدغه

(14): ارمان، سمیع الدین،کرکشن، خپروونکی؛ اعراف پرنټرز پېښور ،(۲۰۱۸)، مخ ۱۳۸

(15): صابر، محمد ایوب ،نقد حیات، خپرندوی؛ کلاسیک خپرندویه ټولنه،(۲۰۱۶)، مخ ۲۹

(16): فهیم، نور احمد ژباړن، ښځه د سعدي د شعر په رڼا کي، بېلا بېل لیکوال. خپروونکی؛ خان فرهنګ اسلامي ایران پېښور،(۱۳۸۱ش)، مخ ۲

(17): راز، رازمحمد ، کاسمک سکسوېلیزم، خپروونکی؛ فکر نو ادبي فورم پښین،(۲۰۱۱)، مخ ۲۵